د ستراوځواکمن څښتن تعالی په سپیڅلي نامه

Logar

# لوګر

میاشتنۍ خپرونه

د تاسیس کال: ۱۳۸۳هـ.ل

دلوګراطلاعاتواوفرهنګ ریاست میاشتنۍ سیاسي، علمي، ټولنیزه، دیني او فرهنګي خپرونه

دو شنبه د۱۳۹۸ کال د تلې د میاشتې لومړۍ، د ۲۰۱۹ عیسوي کال د سپټمبردرویشتمه | ۱ | پرله پسې ګڼه (۱۰۶) لومړی کال، پنځمه ګڼه


له ابو هریره (رض) نه روایت دی، چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي: دمنافق درې نښې دي ؛ چې کله خبرې کوي درواغ وایي، کله چې وعده وکړي په هغه وفا نه کوي او که امانت ور وسپارل شي، په هغه کې خیانت کوي.

## سرلیکنه ...

## ټاکنې د نظام د مشروعیت اصل دی

ټاکل شوې چې د روان کال د تلې میاشتې په شپږمه نیټه به په هېواد کې ولسمشریزې ټاکنې تر سره کیږي، د نوماندانو له خوا ټاکنیزې منډې ترړې پیل شوې خو د تیرو ولسمشریزو ټاکنو په پرتله دا ځل کمپاینې غونډې او کمپاینونه کم رنګه معلومیږي.

خراب امنیتي وضعیت، په ټاکنو بې باوري، د خلکو نه لیوالتیا او ولسمشریزې څوکۍ ته د ډیرو کسانو نوماندیدل هغه لاملونه دي چې دا بهیر یې کم رنګه او بې رنګه کړی.

دغه راز په قطر کې د طالب استازو او امریکا ترمنځ د سولې په تړاو رواني خبرې هم ددې لامل شوې چې ګواکې ټاکنې به تر سره نه شي ځکه داسې آوازې وې، چې طالبان او امریکایان د سولې له هوکړه لیک څخه وروسته ممکن په لنډ مهاله حکومت باندې سره سلا شي.

له دې ټولو سره سره ډیر شمیر هېوادوال او برحاله ولسمشر ځکه ټاکنې غواړي چې د زعیم د ټاکلو لپاره انتخابات د ولسواکۍ اصل دی او دغه راز نظام خپل مشروعیت له لاسه نه ورکوي او همدا رنګه ټاکنې هغه پروسه ده، چې ولس خپل تصویر د نظام او منتخب دولت په هنداره کې لیدلای شي.

د مشروع نظام د را منځته کیدو لپاره تر ټولو ښه لاره همدا ټاکنې دي او هر وګړی چې تر ټاکنیز صندوق پورې ولاړ شي او د خوښې ور نوماند ته رایه ورکړي دا د ولسواکۍ د عملي کولو تر ټولو ښه اصل دی.

ټاکنې ځکه د ولس غوښتنه ده، چې موقت حکومت یو ځلې بیا د شا تګ ښکارندوی دی او د کابو تیرو اتلسو کلونو لاسته راوړنې په اوبو لاهو کیږي، نو هیڅ وګړي دا نه غواړي چې ټولې چارې دې یو ځل بیا له پیل څخه شروع شي.

ملي مسایل لکه سوله، ټاکنې او ښه حکومتولي؛ له دې سره باید ملي برخورد وشي او هیڅ سیاسي اړخ او ډله ټپله ورسره سلیقوي او شخصي برخورد ونه کړي ځکه که ملي مسایل له پښو لاندې شي نو هیوادنۍ ګټې مو له پښو لاندې کیږي او دغه راز د دولت مشروعیت هم تر پوښتنې لاندې راځي.

په وروستیو کې یو ځل بیا په دې ټینګار کوو، چې ټاکنې د نظام مشروعیت زبادوي، نو که مشروعیت ساتل غواړو ټول دې په یو غږ په ټاکنو کې ونډه واخلي او د همدې پروسې د ډب کولو مخه دې نه نیسي.

ثریا دخدای پامان

مدیر

## دخپلواکۍ سلمه کلیزه په لوګر ولایت کې ولمانځل شوه

دخپلواکۍ سلمه کلیزه د زمري په اته ویشتمه په لوګرولایت کې په ځانګړو مراسمو ولمانځل شوه، چې د لوګر والي الحاج محمدانورخان اسحاقزي، ولایت مرستیال تورن جنرال محمدنبي احمدزي په ګډون؛ د ولایتي شورا رییس حسیب الله ستانکزي، داطلاعاتواوفرهنګ رییس عبدالرحمن تسل، دولایتي








شورا غړیو، په ولسي جرګه کې دلوګردخلکو استازي محمدخالد مومند، دولتي ادارو مسؤلینو، مشرانو، ځوانانو، میرمنو، دمدني ټولنو غړیو او خبریالانو ګډون کړي ؤ.

لوګروالي الحاج محمدانورخان اسحاقزي دخپلواکۍ د سلمې کلیزې دجشن لومړی ویناوال ؤ، چې راغلوګډونوالو ته دهېواد دخپلواکۍ سلمې کلیزې په ویاړ مبارکي او ترڅنګ ښه راغلاست ووایه.

لوګر والي الحاج محمدانورخان اسحاقزي دخپلواکۍ په ویاړ او ارزښت وینا وکړه، زیاته یې کړه، چې خپلواکي دیوې ټولنې او یا دیوهېواد لپاره لویه اړتیاده، چې ولسونه یې د ملي ارزښتونو، ملي یوالي او پرمختګونو څخه برخمن شي.

اسحاقزي دشاه امان الله خان غازي په میړانې او شجاعت رڼایي واچوله، ویې ویل، چې شاه امان الله خان غازي افغانانو ته دانګریزانو څخه آزادي واخیسته او دامهال ولسونه په ویاړ سره یاده ورځ لمانځي، چې ورسره جوخت د غازي امیرامان الله خان نوم په یادولو؛ ولسونو ته ویاړونه وربښي.

همدارنګه والي په خلکو ټینګار وکړ، چې دخپلو ملي ورځو ارزښتونو او ویاړونو ته ځانګړې درناوی ولري. ولس یې د یوالي لوري ته هم راوبلل، چې په هېواد کې تلپاتې سوله ټینګښت ومومي.

په ولسي جرګه کې دلوګر دخلکو استازي محمدخالدمومند، د خپلواکۍ ویاړلي ورځې په اړه ارزښتناکه وینا واوروله. ملي ځواکونو ته دا روحیه ورکړه، ویې ویل، چې زموږ نیکونو په خالي لاس د وخت استعمارګر انګریز ته ماتې ورکړه او خپلواکي یې دافغانانو په نوم کړه، چې باید زموږ ملي ځواکونه دخپلې خاورې نه په کلکه دفاع او ساتنه وکړي. مومند له امنیتي سرتیرو هم مننه وکړه، چې دغې ملي ورځې لپاره امنیتي تدابیر په پام کې نیولي ؤ.

ولایتي شورا رییس حسیب الله ستانکزي هم دهېواد میړني ولس ته د خپلواکۍ دجشن مبارکي ورکولو ترڅنګ دملي اتلانو او غازیانو په کارنامو او سرښندنو خبرې وکړې او دهغوی شهکاریانې ولس ته یادونه یې په تاریخ کې تلپاتې وګڼل. په دغو مراسمو کې دحضرت عمرفاروق (رض) او دبي بي آمینې دنجونو لیسې د ترانو ټیمونو لخوا هېوادنۍ ترانې هم ولوستل شوې. دجشن دمراسمو په پای کې ورزشي ننداري هم ګډونوالو ته وړاندې شوې او همدارنګه دلاسي صنایعو نندارتونونه، چې پکې ښځینه لاسي جوړونې، جامې، دمریو نه جوړ شوې جامې، ګلدوزي او داسې نور توکي په ننداري کې ایښودل شوي وې، دجشن دمراسمو په پای کې ګډونوالو ورڅخه لیدنه وکړه.

امیني

## سنگ تهداب دیواراحاطوی یک موزیم درولایت لوگرگذاشته شد

سنگ تهداب دیواراحاطوی یک موزیم درولسوالی محمدآغه لوگربه تاریخ23سنبله توسط پوهاند محمدرسول باوری معین فرهنگ وهنر وزارت اطلاعات وفرهنگ وبرخی منسوبین دیگرگذاشته شد.

برنامه که بدین مناسبت درولسوالی محمدآغه راه اندازی گردیده بود درآن پوهاند محمدرسول باوری معین فرهنگ وهنر وزارت اطلاعات وفرهنگ، محمدانورخان اسحاقزی والی لوگر، مسوولین امنیتی، اکبرستانکزی عضومجلس سنا، نورآغا نوری رییس باستان شناسی، وکلای شورای ولایتی وعبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ اشتراک ورزیده بودند.

پوهاند محمدرسول باوری معین فرهنگ وهنر وزارت اطلاعات وفرهنگ میگوید که این دیواراحاطوی به مصرف مجموعی هشت میلیون وهفت صدهزار افغانی ازبودجه انکشافی وزارت اطلاعات وفرهنگ درمساحت 30 جریب زمین توسط شرکت گربت اعتبارساخته میشود.

آقای باوری خاطرنشان ساخت که دراین محوطه، هنگرهای موزیم ساخته خواهد شد تا درآن استوپه ها ومعابد دوره بودایی ها که ازساحات باستانی مس عینک دراثرحفریات به دست آمده جابجا گردد، وی خبر داد که تلاش ها برای آغازکارساخت تعمیر یک موزیم درمساحت بیش از سه جریب زمین درمرکزلوگر نیز ادامه دارد.

عبدالرحمن تسل رییس اطلاعات وفرهنگ می گوید که اکنون یک موزیم به شکل ابتدایی آن درریاست اطلاعات وفرهنگ وجود دارد که درآن ظروف قدیمی وصنایع دستی موجود میباشد.

رییس اطلاعات وفرهنگ علاوه کرد که درولایت لوگرساحات زیادی باستانی مثل ساحات باستانی مس عینک، کافرکوت خروار وسجاوند وجود دارد اما تا هنوز موزیم معیاری دراین ولایت وجود ندارد وی ازوزارت اطلاعات وفرهنگ خواست



که برای ساخت تعمیر یک موزیم درمرکزلوگر نیز اقدام نمایند.

قابل یاد آوری است که بیش ازده سال میشود درساحه باستانی مس عینک حفریات قانونی جریان دارد و صد ها آثاربدست آمده منقول نسبت عدم موجودیت موزیم درلوگر، به موزیم ملی کابل انتقال شده است.

محمدزاهد «سلطانی»

## عصري، الکترونکي او آنلاین چوپړتیاوې د عصر غوښتنه ده

د وږي ۲۰ مه: دغه څرګندونې د لوګر ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ رییس عبدالرحمن تسل په هغه غونډې کې وکړې چې په لسګونو ځوانانو په کې برخه لرله.

یاده غونډه دلوګر داطلاعاتواوفرهنګ ریاست کې جوړه شوې وه، چې په ویډیویي او سیاره ښه د تاریخي اثارو او فرهنګي میراثونو په تړاو معلومات او ارزښتمن ویډیویي کلیپونه وړاندې شول. په دې غونډه کې د لوګر ولایت د اطلاعات او فرهنګ رییس عبدالرحمن تسل سربیره، د لنکن ښوونیز مرکز مشر عبدالفتاح مفلح، د اطلاعات او فرهنګ ریاست آمرینو، کارکوونکو او ځوانانو برخه اخیستې وه. ... پاتې په ۲ مخ

دولت دصنایعو دپراختیا، دتولید د ودې او دخلکو د ژوند دسطحې د لوړتیااو دکسبګرو دفعالیتونو د ملاتړ لپاره اغېزمن پروګرامونه طرح او تطبیقوي.

(دافغانستان داساسي قانون دیارلسمه ماده)